التعليم فوق الجميع | education above all

د صفر کچه

# د ښوونکي لارښود

د سکرین/پردې کارولو پرته زده کړه ییزې سرچینې چې ګڼ مهارتونه منځته راوړي

## لومړی کتاب



د منځپانګې شریک همکاران

DREAM a DREAM

لومړۍ پروژه

# زما جيلي لرونکی کب (My Jellyfish)

| | |
|---|---|
| شرحه | زده کوونکي به د عددونو د شمېرلو او ليکلو مفکورې د درک کولو لپاره خپل جيلي لرونکی کب ډيزاينوي. |
| اړين توکي | کاغذ، قلم/پنسل<br>زړې ورځپاڼې/کاغذي چارټ<br>کارډبورډ/د کاغذ تخته (اختياري)<br>رنګونه (اختياري) |
| زده کړه ييزه لاسته راوړنې | **د عدد پېژندنې کليدي لاسته راوړنې:**<br>• له ۱ څخه تر ۱۰ عددونو پورې شمېرل<br>• له ۱ څخه تر ۱۰ عددونو پورې ليکل<br>• له شيانو څخه په ګڼه اخيستلو سره د عددونو ښودل<br>• په ترتيب سره عددونه شمېرل<br>• واقعي ژوند سره شمېرو ته تړاو ورکول<br><br>**د يوويشتمې پېړۍ مهارتونه:**<br>• د خپل هنري کار په ډيزاينولو کې خلاقيت<br>• د شيانو په بڼه د عددونو د څرګندولو د څرنګوالي په تړاو انتقادي فکر کول<br>• هغوی ته د وړاندې شوي يو کار په اړه د فيډبيک (نظر) شريکول |

## د پروژې عمومي کتنه

**1** په ورځني ژوند کې د عددونو ارزښت باندې پوهېدل او د ۱ او ۲ عددونو شمېرنه زده کول.

**2** د ۳، ۴، او ۵ عددونو زده کول او د خطونو بېلا بېل ډولونه څېړل. د خپل جيلي لرونکي کب 'پښې' جوړول.

**3** د ۶، ۷، او ۸ عددونو زده کول او د لوبو په مرسته بياکتنه ترسره کول. د خپل جيلي لرونکي کب لپاره نورې پښې جوړول.

**4** د ۹ او ۱۰ عددونو زده کول او د هغوی د شمېرلو جدول وړاندې کول.

**5** خپل جيلي لرونکي کب پوره کول، دا خپلو ملګرو ته ښودل، او خپل د قطعو معما حل کولو لوبه جوړول.

لومړی ورځ

# زما جیلي لرونکی کب

۱۰ دقیقې



**له زده کوونکو سره په لاربښودونکې پوښتنه باندې بحث کول:**

## آیا تاسې د یوه جیلي لرونکي کب پښې رسمولای او شمېرلای شئ؟

په بحث کې د مرستې لپاره لاندې لاندینۍ پوښتنې وکړئ:

- آیا تاسې د داسې ژوو نومونه اخیستلای شئ چې په بحر کې اوسېږي؟
- آیا تاسې جیلي لرونکی کب (Jellyfish) پېژنئ؟ زده کوونکې کولای شي چې وړاندوینه وکړي او رسم جوړ کړي چې جیلي لرونکی کب به داسې وي.
- د یوه جیلي لرونکي کب یو نمونه یې انځور وښایاست/رسم کړئ او زده کوونکې به وګوري چې آیا د هغوی وړاندوینه سمه وه؟
- ستاسې په اند یو جیلي لرونکی کب څو پښې لري؟

## فعالیت

۱۰ دقیقې

***زده کوونکي په واقعي ژوند کې د عددونو استعمال څېړي.***


مخکې له دې چې مونږ د جیلي لرونکي کب پښې شمېرل پیل کړو، راځئ چې خپلو بدنونو ته وګورو.

زده کوونکي باید د خپلو ګوتو په کارولو سره وښيي:

- ستاسې کور څو کړکۍ لري؟
- ته څو خواره ملګري لري؟
- ستا مخې ته څو شیان پراته دي؟

زده کوونکي باید خپل د بدن غړو ته وګوري او فکر وکړي چې ولې هغوی هر غړی یو یا دوه لري:

- تاسې د بدن کوم غړي یو یو لرئ؟ *(سر، پزه، خوله، او داسې نور)*
- تاسې د بدن کوم غړي دوه دوه لرئ؟ *(سترګې، لاسونه، پښې او داسې نور)*



زده کوونکو ته د ځواب ښودلو څخه ډډه وکړئ. که یو زده کوونکی ناسم ځواب ووایي، هغوی د نورو پوښتنو په پوښتلو سره وننګوئ. د بېلګې په ډول، که یو زده کوونکی ووای پزې دوه دي، هغوی ته ووایاست چې خپلې پزې ته اشاره وکړي او له تاسې سره دې یې وشمېري.

۵ دقیقې

1. ځینې عددونه رسم کړئ او له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړئ چې آیا هغوی پوهېږي چې دا څه دي؟ بیا بحث وکړئ:
   - آیا تاسې پوهېږئ چې بعضې عددونه څنګه لیکل کېږي؟
   - تاسې عددونه چېرته لیدلي دي؟
   - تاسې څه فکر کوئ چې مونږ ولې عددونو ته اړتیا لرو؟

۵ دقیقې

2. ۱ او ۲ عددونه وښایاست/ولیکئ او بحث وکړئ:
- هغه کوم ځیني شیان دي چې د ۱ عدد ورسره ورته والی لري؟
- آیا تاسې د ۲ عدد د شکل په کارولو سره یو شی رسمولای شئ؟

۱۰ دقیقې

3. زده کوونکي په بېلا بېلو طریقو سره د ۱ او ۲ عددونو د لیکلو د تمرین لپاره په جوړه یي یا ګروپي بڼه کار کوي (هر یوه طریقه مو چې خوښه وه، غوره یې کړئ)




- په کاغذ باندې په ګوته تعقیبول: عددونه لس ځلې پر کاغذ په ګوته ګرځولو سره تعقیب کړئ.
- په خاوره/شګه لیکل: ۱ او ۲ عددونه په ځمکه ولیکئ.
- په هوا کې رسمول: د لاسي حرکتونو په مرسته په هوا کې د لیکلو تمرین وکړئ.

## فعالیت

***زده کوونکي به د 'شمېرلو یو چارټ' جوړوي.***

۱۰ دقیقې

په کاغذ باندې، زده کوونکي به د ۱ عدد ولیکي او څنګ ته به یې ۱ شی رسم کړي.
په بل کتار کې، هغوی به د ۲ عدد ولیکي او څنګ ته به یې ۲ شیان رسم کړي.


| | |
|---|---|
| ۱ |  |
| ۲ |  |

زده کوونکي د خپلې خوښې هر شی رسمولای شي. دا شکلونه یا سمبولونه هم کېدای شي!

له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې په ساده توګه د عدد په تلفظ کولو سره پر چارټ د عددونو نومونه (یو، دوه) او همدارنګه هغوی لپاره د مفهوم افاده کوونکي شیان ولیکي! د بېلګې په ډول، هغوی ښایي د دوه پر ځای 'too یعني هم' ولیکي.

۱۵ دقیقې

4. زده کوونکي به د خپل جیلي لرونکي کېک د 'پېښو' جوړول پیل کړي:
- د یوه بالغ کس په مرسته، هغوی باید ۱۰ مساوي مستطیلي پټۍ (په تقریبي ډول د هغوی د ۵ ګوتو په اندازه اوږدې) غوڅې/پرې کړي.
- که امکان ولري، زده کوونکي خپل د جیلي لرونکي کېک پټیو ته د خپلې خوښې رنګونه ورکولای شي.
- هغوی باید ۲ پټۍ واخلي. په هره پټۍ، هغوی باید عدد ولیکي او، لکه څرنګه چې ښودل شوي، په هماغه اندازه دایرې (یا بل کوم شکل) رسم کړي. زده کوونکي باید دا کار د ۱ او ۲ عددونو لپاره ترسره کړي.




۵ دقیقې

5. زده کوونکي باید دغه دوه پټۍ له ځان سره وساتي. زده کوونکي باید له خپلو ملګرو سره په دې اړه چې نن د څه شي په اړه زده کړه کول د هغوی لپاره خوندور و، بحث وکړي.

دویمه ورځ

# زما جيلي لرونکی کب

***د جيلي لرونکي کب د نورو پښو د جوړولو لپاره، زده کوونکي به ۳، ۴، او ۵ عددونه زده کوي.***

۱۰ دقيقې

1. د ۱ او ۲ عددونو د بياکتنې لپاره زده کوونکي د لاندينې فعاليتونو ترسره کولو ته راوبولئ:

- د خپلې خوښې يوه ميوه رسم کړئ.
- د خپلې خوښې دوه شکلونه رسم کړئ.
- خپل رسمونه خپل ملګري سره شريک کړئ، او پرېږدئ چې د رسم نوم واخلي او ويې شمېري او څنګ ته يې اړونده شمېره وليکي.

۵ دقيقې

2. زده کوونکي به د ۳، ۴، او ۵ عددونه وڅېړي:

- زده کوونکي به خپلو ګوتو سره يو په يو عددونه وايي او ښيي.
- زده کوونکي بايد د ۳، ۴، او ۵ شيانو د ښودلو لپاره شيان (تيږې، پاڼې او داسې نور) راټول کړي. له هغوی څخه غوښتنه وکړئ چې هغه له څخه ووايي او ويې ليکي چې راټول کړي يې دي.
- بېلګه: ۳ قلمونه

۱۵ دقيقې


3. د ۳، ۴، او ۵ عددونو ليکلو څرنګوالي باندې رڼا واچوئ. زده کوونکي کولای شي په کاغذ باندې عددونه په ګوته ګرځولو سره تعقيب کړي، او په هوا کې يا په خاوره/شګه کې يې رسم کړي. هغوی وهڅوئ چې هر عدد لږ تر لږه ۱۰ ځلې ليکل تمرين کړي.

## د حرکت دمه

***زده کوونکي به د کرښو بېلا بېل ډولونه چې د عددونو په ليکلو کې کارول کېږي، په ګوته کوي.***

۱۰ دقيقې

- زده کوونکو ته د کرښو ډولونه تشريح او ښکاره کړئ.
- د کرښونو نومونه په لوړ غږ ووایاست او زده کوونکي بايد د خپل بدن په کارولو سره کرښه جوړه کړي.
- زده کوونکي په ګوته کولای شي چې له ۱ تر ۵ پورې عددونو کې کوم ډول کرښې کارول کېږي.



۵ دقیقې

4. زده کوونکي باید د ۳، ۴، او ۵ عددونه خپل د شمېرنې چارټ کې ولیکي.

له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې په چارټ کې د عددونو نومونه ولیکي!

۱۰ دقیقې

4. زده کوونکي باید د کاغذ په درې جلا پټیو باندې د ۳، ۴، او ۵ عددونو لپاره (لکه څرنګه چې په لومړۍ ورځ یې ترسره کړي) د جیلي لرونکي کب پښې جوړې کړي.

5. زده کوونکي خپلو ملګرو ته د جیلي لرونکي کب 'پښې' ښيي او بحث کوي:
- د هغوی د کار په برخه کې څه شی ستاسې خوښ شو؟
- آیا د هغوی په کار کې داسې ځایونه شته چې لا ښه کېدو ته اړتیا ولري؟

# زما جیلي لرونکی کب

## درېیمه ورځ

***زده کوونکي به د ۶، ۷، او ۸ عددونه زده کوي چې د جیلي لرونکي کب نورې پښې جوړې کړي.***

### د ریاضي لوبه

۱۰ دقیقې

***زده کوونکي به له ۱ څخه تر ۵ پورې عددونو بیاکتنه ترسره کوي.***
- زده کوونکي په ډله ییز ډول کار کولای شي.
- له ۱ نه تر ۵ عددونو څخه یو عدد په لوړ غږ وواياست او د عملي کار غږ وکړئ.
  بېلګه: ۳ ځلې چکچکې وهل، ۵ ځلې ټوپونه وهل، ۲ ځلې کښېناستل-دربدل او داسې نور
- هغه ډله چې دا عمل په سمه توګه او تر ټولو په چټکۍ سره ترسره کوي، ۱ نومره ترلاسه کوي.
- د ګېنو پړاوونو په پای کې تر ټولو زیاتې نومرې اخیستونکې ډله ګټونکې ده!

۵ دقیقې

1. د ۶، ۷، او ۸ عددونه معرفي کړئ او بحث وکړئ:
- تاسې په دې عددونو کې کومې کرښې وینئ؟
- د دغه عددونو شکل تاسې ته څه شی ذهن ته راوړي؟

*(بېلګه: د '۷' عدد یوې لیندۍ ته ورته دی)*

۱۵ دقیقې

2. زده کوونکي په کاغذ باندې په ګوته تعقیبولو سره، او په هوا یا په خاوره/شګه کې د رسم په کارولو سره د عددونو تمرین کولای شي. هغوی وهڅوئ چې د هر عدد لپاره تر لږه ۱۰ ځلې لیکل تمرین کړي.

۵ دقیقې

3. زده کوونکي باید د ۶، ۷، او ۸ عددونه خپل د شمېرلو چارټ کې اضافه کړي.

له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې د عددونو نومونه خپل چارټ کې ولیکي!

۱۰ دقیقې

3. له زده کوونکو سره بحث وکړئ:
- کوم خاروي ۲ پښې لري؟
- کوم خاروي ۴ پښې لري؟
- آیا تاسې داسې ژوي پېژنئ چې ۶ یا ۸ پښې لري؟ *(بېلګه: حشرات، لکه غنه)*
- د یو جیلي لرونکي کب په څېر، تصور وکړئ چې تاسې ډېرې پښې لرئ. تاسې به څومره پښې غواړئ؟ تاسې به له دغو پښو څخه څنګه ګټه اخلئ؟ زده کوونکي کولای شي چې دا رسم هم کړي!

۱۰ دقیقې

5. زده کونکي باید د کاغذ په درې جلا پټیو باندې د ۶، ۷، او ۸ عددونو لپاره، (لکه څرنګه چې په لومړي ورځ یې ترسره کړي) د جیلي لرونکي کب پښې جوړې کړي.

۵ دقیقې

5. زده کوونکي دې 'پښې' خپلو ملګرو ته وښايي او بحث دې وکړي:
- د هغوی د کار په برخه کې څه شی ستاسې خوښ شو؟
- آیا د هغوی په کار کې داسې برخې شته چې لا ښه کېدو ته اړتیا ولري؟

# زما جیلي لرونکی کب

## څلورمه ورځ

***زده کوونکي به د ۹ او ۱۰ عددونه زده کړي چې د جیلي لرونکي کب نورې پښې جوړې کړي.***

## د ریاضي لوبه

۱۰ دقیقې

***زده کوونکي به له ۱ نه تر ۸ پورې عددونو باندې بیا کتنه ترسره کړي.***

- په داسې حال کې چې زده کوونکي په یوه دایره کې حرکت کوي، خپل لاس په دېوال ووهئ یا په خپلو کې د ګوتو په وهلو سره ترې ټکان وباسئ.
- کله چې لاس په دیوال وهل یا ګوتې خپلو کې وهل تم شي، په لوړ غږ سره له ۱ نه تر ۸ پورې یو عدد ووایاست.
- زده کوونکي به د هماغه عدد څېر په ګروپونو کې تنظیم شي.
- کوم زده کوونکي چې د عین شمېر کسانو په ډله کې رانغلو، هغه سوځېدلی دی.
- په لوبه کې وروستی جوړه ګټونکې ده!

۵ دقیقې

1. د ۹ او ۱۰ عددونه معرفي کړئ او بحث وکړئ:
- تاسې په دې عددونو کې کومې کرښې وینئ؟
- د '۰' عدد معرفي کړئ – زده کوونکې د بندو موټو په مرسته صفر ښودلای شي.
- ستاسې په بدن کې، تاسې د ۱۰، ۱۰ غړو درلودونکې څو برخې لرئ؟ *(د لاس ګوتې، د پښو ګوتې)*
- زده کوونکې باید شمېرنه ترسره کړي او په خپلو ګوتو ۹ او ۱۰ وښیي.

۱۵ دقیقې

2. زده کوونکې په کاغذ باندې د ګوتو په ګرځولو، په هوا کې یا په خاوره/شګه کې رسمولو سره د عددونو د لیکلو تمرین کولای شي. هغوی وهڅوئ چې هر عدد لږ تر لږه ۱۰ ځلې لیکل تمرین کړي.

۵ دقیقې

2. زده کوونکې باید ۹ او ۱۰ عددونه خپل د **شمېرنې چارټ** کې ورزیات کړي.

۱۰ دقیقې

2. زده کونکې باید د کاغذ په دوه جلا پټیو باندې د ۹ او ۱۰ عددونو لپاره، (لکه څرنګه چې په لومړۍ ورځ یې ترسره کړي) د جیلي لړونکې کب پښې جوړې کړي.

## فعالیت

۱۰ دقیقې

***زده کوونکې به خپل د شمېرلو چارټ وښیي.***

- زده کوونکې به خپل د شمېرلو چارټونه له خپلو ملګرو سره تبادله کړي.
- ملګري کولای شي وړاندېنه وکړي چې هغوی د هر عدد لپاره کوم رسمونه جوړ کړي دي؟
- ملګري به رسمونه وګوري او تېروتنې به یې، که کومه یوه وي، اصلاح کړي.
- زده کوونکې له خپلو ملګرو سره بحث کوي:
  - د هغوی د شمېرلو چارټ کې څه شی تاسې لپاره تر ټولو زیات په زړه پورې و؟
  - آیا ستاسې چارټونه مشابه معلومېږي یا یې ډېر توپیر شتون لري؟ وشمېرئ چې ستاسې په چارټونو کې څومره شیان سره ورته والی لري!
- د خپل شمېرلو چارټ د استعمال موارد وڅېړئ. *(ورونو/خویندو ته تدریس کول، هغه خلکو سره مرسته کول څوک چې خبرې نه شي کولای، لوبې کول، او داسې نور)*

۵ دقیقې

- د هغوی په کار کې څه شی تاسې لپاره په زړه پورې و
- آیا د هغوی په کار کې داسې برخې شته چې لا ښه کېدو ته اړتیا ولري؟


پنځمه ورځ

# زما جیلي لرونکی کب

## د ریاضي لوبه

***زده کوونکي به له ۱ څخه تر ۱۰ پورې عددونو باندې بیاکتنه ترسره کړي.*** ***۱۵ دقیقې***

- زده کوونکو سره د ۲۰ دانې مربع یې کارتونو په غوڅولو کې مرسته وکړئ (چې د هغوی د ورغوي په اندازه وي). هغوی باید په ۱۰ کارتونو باندې له ۱ څخه تر ۱۰ پورې یو عدد ولیکي او په پاتې کارتونو باندې دې له ۱ څخه تر ۱۰ پورې دایرې رسمې کړي.
- زده کوونکي کارتونه اړوي راړوي، او له خپلو ملګرو سره یې بدلوي.
- کله چې تاسې وویاست، 'پیل کړئ ' هغه لوبغاړی ګټونکی دی څوک چې د ټولو عددونو لپاره د عدد کارت د دایرو کارت سره جوړه کړي!
- له هغوی څخه غوښتنه وکړئ چې له کارتونو څخه په ګټه اخیستنې سره خپلې لوبې جوړې کړي.




1. زده کوونکي به د خپل جیلي لرونکي کب سر جوړوي. دا کار په دوه طریقو سره ترسره کېدای شي: ***۱۵ دقیقې***

**لومړۍ طرحه**

- یو کاغذي قاب په منځ کې غوڅ کړئ.
- رنګ یې کړئ او ۲ سترګې پکې رسم کړئ.

**دویمه طرحه**

- په کارډبورډ یا کاغذ باندې د دایرې د رسمولو لپاره یو ګرد شی وکاروئ.
- دایره له کاغذ څخه پرې کړئ او د یوه بالغ کس په مرسته یې په منځ کې قات کړئ.
- رنګ یې کړئ او ۲ سترګې پکې رسم کړئ.




1. زده کوونکي به له ۱ څخه تر ۱۰ پورې ترتیب سره خپلې د کاغذ پټې تنظیموي، خپل د جیلي لرونکي کب سر پورې به یې ونښلوي او سنګار به یې کړي. ***۱۰ دقیقې***
2. زده کوونکي به خپل جیلي لرونکي کب ته نوم ورکړي او د نظر شریکولو په موخه به یې خپل ملګري ته ښکاره کړي: ***۱۰ دقیقې***
   - ستا زما د جیلي لرونکي کب څه شی خوښ شو؟
   - زمونږ جیلي لرونکی کب له یوه بل څخه څه توپیر لري؟

4. زده کوونکي خپل نظرونه وايي او له خپل ملګري سره بحث کوي: ***۱۰ دقیقې***
په دې پروژه کې هغوی ۳ شیان زده کړل.
دوه داسې شیان وو چې هغوی لپاره تر نورو زیات خوندور وو.
یوه پوښتنه هغوی لا هم په ذهن کې لري.

*زده کوونکي باید خپل جیلي لرونکی کب خپلو کورنیو ته هم وښیي او تشریح کړي چې هغوی څنګه دا جیلي لرونکی کب جوړ کړی دی.*

# د پېژندپاڼو جوړول

دويمه پروژه

| | |
|---|---|
| شرحه | زده کوونکي به له خپلو دوستانو سره مرکه ترسره کوي او د هغوی لپاره به د اړيکې د ټينګولو، د توپيرونو او مشابهتونو په اړه د پوهاوي ترلاسه کولو، او د هغوی د هوئيت د معلوملو په موخه پېژندپاڼې جوړوي. |
| اړين توکي | کاغذ، قلم/پنسل، رنګونه (اختياري) |
| زده کړه ييزې لاسته راوړنې | **د ليک او لوست (سواد) کليدي لاسته راوړنې:**<br>• د پوښتنې کلمې پېژندل او کارول<br>• صفتي اسمونه پېژندل او کارول<br>• د مرکې مهارتونو منځته راوړل<br>• د پيل، منځ، او پای درلودونکې اصلي کيسه ليکل چې خپلو کې منطقي تړاو ولري<br><br>**د عدد پېژندنې کليدي لاسته راوړنې:**<br>• د معلوماتو د لنډيز چمتو کولو لپاره د خط ته ورته شمېرنې چارټونو (tally charts) څخه ګټه اخيستل |

## د پروژې عمومي کتنه

**1** څېړنه ترسره کول چې خلک څنګه پېژندل کېدای شي او مشابهتونه/توپيرونه له ملګرو سره شريکول.

**2** د خپلې پېژندپاڼې لپاره يوه نمونه جوړول او د معلوماتو لاسته راوړلو لپاره مرکې پلانول.

**3** د پوښتنو مطرح کولو مهارتونو منځته راوړل او په عددي بڼه راټول شوي معلومات وړاندې کول.

**4** د صفتي نومونو په هکله زده کړه کول او يوه لنډه اصلي کيسه ليکل چې له هغه خلکو څخه په الهام اخيستنې سره ليکل شوې وي چې دوی ورسره تر دې دمه مرکې کړې دي.

**5** ملګري ته خپلې پېژندپاڼې، لنډې کيسې او له پروژې څخه زده کړل شوي موارد ښودل. د شمېرنې د بياکتنې لپاره د رياضي لوبه کول.

لومړی ورځ

# د پېژندپاڼو جوړول

**له زده کوونکو سره لاربښودونکې پوښتنه باندې بحث کول:**

**آیا تاسې د خپلې کورنۍ یا دوستانو پېژندپاڼې جوړولای شئ چې ځينې مشابهتونه، توپیرونه، او د هغوی په تړاو نور شخصي معلومات انځور کړي؟**

په بحث کې د مرستې په موخه، یوه نمونه يې پېژندپاڼه، که شتون ولري، ښکاره کړئ.

۱۰ دقیقې

1. زده کوونکي به د پېژندپاڼو د استعمال د مواردو د ډولونو په هکله ګډ مغزي کار ترسره کړي. لاربښودونکې پوښتنې وکړئ:
- د پېژندپاڼو بېلا بېل ډولونه کوم کوم دي؟
- تاسې د پېژندپاڼو استعمال په کومو ځایونو کې ګورئ؟
- تاسې د یو شخص په هکله د هغوی له پېژندپاڼې څخه کوم معلومات اخیستلای شئ؟

۱۰ دقیقې

2. له زده کوونکو سره بحث وکړئ:
- تاسې خلک څنګه پېژنئ؟
- هغه څه شی دی چې خلک نورو څخه بې ساري یا متفاوت ګرځوي؟
- آیا داسې شیان شته دی چې په ټولو خلکو کې ورته والی ولري؟

۱۰ دقیقې

3. زده کوونکي به خپل ښېسارېتوب او ورته والی له خپلو ملګرو سره وپلټي:
- هغه کوم ۵ موارد دي چې له مخې يې هغوی يو بل سره ورته والی لري؟
- د هغوی ترمنځ ۵ توپیرونه کوم کوم دي؟

ماشومان وهڅوئ چې نه یوازې فزیکي ځانګړنې، بلکې د شخصیت اوصاف او لومړیتوبونه هم په نظر کې ولري. (آیا دوی په اسانۍ سره دوستان جوړوي؟ آیا هغوی فوټبال لوبه کول خوښوي؟ او داسې نور.

4. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې د لاندینیو مواردو په هکله فکر وکړي:
- آیا مونږ د نورو خلکو په پرتله له خپلو کورنیو سره زیات فزیکي ورته والي لرو؟ (مشابهتونه) تاسې ولې داسې فکر کوئ؟
- ستاسې او ستاسې د والدینو/ورونو او خویندو ترمنځ ۵ ډا ډول ورته والي (مشابهتونه) ولیکئ. (د سترګې رنګ، د ویښتانو رنګ، قد، او داسې نور).

۵ دقيقې

6. د جينونو (ارثي موادو) مفهوم تشريح کړئ.

- تشريح کړئ چې ځانګړنې او اوصاف د والدينو له خوا د هغوی بچيانو ته انتقالېږي، همدا لامل دی چې مونږ له خپلې کورنۍ سره ګڼ شمېر کشرک مشابهتونه لرو.
- ځينې ځانګړنې او اوصاف د ځينو نورو په پرتله کم روښانه وي، لکه ښی لاسی/کيڼ لاسی کېدل، د غوږ د نښتو نرميو درلودل، او داسې نور.
- زده کوونکي د جينونو په هکله ټولې هغه پوښتنې، چې ښايي دوی يې ولري، مطرح او د امکاني ځوابونو په اړه يې فکر کولای شي.

تاسې ښايي د هغوی د ټولو پوښتنو ځوابونه و نه لرئ. زده کوونکي وهڅوئ چې د ځوابونو په اړه اټکل وکړي او دا له هغه شواهدو سره پرتله کړئ چې هغوی يې په ګډه سره چمتو کوي.

## فعاليت

***زده کوونکي دا فعاليت د خپلې کورنۍ له غړو سره ترسره کولای شي تر څو خپل جينونه وڅېړي!***




- د کورنۍ د نسب شجره (ونه) رسم کړئ – څومره چې کولای شئ، شا (ماضي) ته ولاړ شئ!
- د تعقيبولو لپاره ۱ يا ۲ فزيکي اوصاف غوره کړئ: د سترګې رنګ، د وېښتانو رنګ، ونه، د پزې شکل، او داسې نور.
- دا د کورنۍ هر غړي ته ځېرمه وليکئ.
- تاسې وګورئ چې څنګه اوصاف هر نسل ته انتقالېږي. آيا د نسلونو ترمنځ يوه مشترکه ځانګړنه شتون لري؟

۵ دقيقې

7. په دې پروژه کې، زده کوونکي به خپلې پېژندپاڼې جوړوي. زده کوونکي بايد پرېکړه وکړي چې هغوی د چا لپاره پېژندپاڼې جوړول غواړي. زده کوونکي بايد د هغه پېژندپاڼو چې دوی به يې جوړوي، د مقصد په اړه فکر وکړي (د ملګرتيا ثبوت، د هغوی تخيلي نړۍ ته د ننوتو اجازه، او داسې نور!)

زده کوونکي د هر مقصد لپاره پېژندپاڼې جوړولای شي! هغوی د 'واقعي' پېژندپاڼو جوړولو ته مه اړ باسئ.

# دویمه ورځ

# د پېژندپاڼو جوړول

***زده کوونکي به یوه پېژندپاڼه د خپل ځان او د خپلې کورنۍ د غړو لپاره جوړوي.***

**۵ دقیقې**

1. د خپلو پېژندپاڼو د مقصد پر بنسټ، زده کوونکي له خپلو ملګرو سره هغه معلومات شریکوي چې دوی پې شاملول غواړي.

1. د ملګرو د نظرونو پر بنسټ، هغوی په کټګوریو کې بدلون راوستلای/کټګورۍ اضافه کولای/حذفولای او یوه نمونه ترتیبولای شي. (لږ تر لږه باید ۱۰ کټګورۍ وي)

نمونه:


نوم: ________
د زوکړې نېټه: ________
پته: ________
د ټیلیفون شمېره: ________
د پلار نوم: ________
د سترګو رنګ: ________
د خوښې فلم: ________
د خوښې رنګ: ________
بهترین ملګری: ________
د خوښې ځاروی: ________
دلته انځور رسم/ونښلوئ

له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې د شخص په هکله د عادي معلوماتو، لکه د هغوی نومونه، عمر، د زوکړې ورځ، او داسې نور، هاخوا نور جزئیات هم شامل کړي.

**۱۰ دقیقې**

2. زده کوونکي به د **خپلو ځانونو** لپاره پېژندپاڼې جوړې او خپلو ملګرو ته یې ښيي. هغوی په دې اړه چې د یو بل په پېژندپاڼو کې یې څه شی خوښ شوی، خپل نظرونه شریکوي.

**۱۰ دقیقې**

3. زده کوونکي به څېړنه ترسره کړي:

- هغه کومې بېلا بېلې طریقې دي چې پر مټ یې مونږ له یو شخص څخه معلومات اخیستلای شو؟ (فورمې، مرکې او داسې نور).
- د هرې طریقې ګټې او زیانونه کوم کوم دي؟
- د خپلو دوستانو او خپلې کورنۍ لپاره د پېژندپاڼو جوړولو لپاره، تاسې به کومه طریقه غوره کوئ؟

له زده کوونکو سره د مرستې په پار چې د معلوماتو د راټولولو نورو اړخونو ته پام وکړي، لارښودونکې پوښتنې وکړئ – وخت، د استعمال اسانتیا، د خلکو د لیکلو او خبرې کولو وړتیاوې او داسې نور.

*۵ دقیقې*

4. زده کوونکي له خپلې خوښې سره سم د هرې طریقې، چې خوښه یې شوه، له لارې معلومات راټولولای شي. خو، مهمه دا ده چې هغوی لږ تر لږه له یوه کس سره مرکه وکړي. د مرکې د مهارتونو د منځته راوړلو او پراختیا د ارزښت په تړاو د هغوی د پوهې د لوړولو لپاره لاندینۍ پوښتنې وکړئ:
- آیا تاسې کله مرکه لیدلې یا مو په اړه یې لوستلي دي؟ (تلویزیون، ورځپاڼې، او داسې نور)
- د مرکو مقصد څه دی؟ (دندې، خبرونه، د پولیسو رپوټونه، څېړنه او داسې نور).

*۵ دقیقې*

5. زده کوونکو ته تشریح کړئ:
- په مرکو کې عموماً دوه کسه ښکېل وي. – یو کس چې پوښتنې کوي او یو بل کس چې ځوابونه وایي.
- ښه مرکچیان ښه چمتووالی لري او پوهېږي چې هغوی له یوه شخص څخه دقیقاً کومو معلوماتو ته اړتیا لري. دې لپاره، هغوی د پوښتنو یو لست چمتو کوي.

*۱۰ دقیقې*

## فعالیت

***زده کوونکي د پوښتنو عادي کلمې څېړي.***

- زده کوونکي باید د هغه پوښتنو په باره کې فکر وکړي چې هغوی یې له یو نوي ټولګیوال څخه د هغوی د ښه پېژندلو لپاره پوښتل غواړي. د بېلګې په ډول، 'ستا نوم څه دی؟' 'ته چېرته اوسېږې؟' او داسې نور.
- بیا، هغوی باید اړومرو په ګروپي ډول بحث وکړي او هغه عادي کلمې په ګوته کړي چې دوی ورسره خپلې پوښتنې پیل کړې وي.

*۱۰ دقیقې*

6. د پوښتنې کلمې تشریح کړئ: څوک، څه، چېرته، کله، ولې، څنګه.
- **څوک:** د یو شخص په هکله پوښتنه مطرح کوي. لکه، ستا تر ټولو نژدې دوست څوک دی؟
- **څه:** د یو شي په هکله پوښتنه مطرح کوي: لکه ستا نوم څه دی؟
- **چېرته:** د یو ځای په هکله پوښتنه مطرح کوي. لکه ته چېرته اوسېږې؟
- **کله:** د یو وخت په هکله پوښتنه مطرح کوي. لکه ستا د زوکړې ورځ کله ده؟
- **ولې:** د یو لامل/سبب په هکله پوښتنه مطرح کوي. لکه ته رنګ کول ولې خوښوې؟
- **څنګه:** د یو کار د ترسره کولو د طریقې په هکله پوښتنه مطرح کوي: لکه ته ښوونځي ته هره ورځ څنګه راځې؟

7. زده کوونکي کولای شي د پوښتنو کلمو درلودونکی یو چارټ له رسمونو سره، چې په ډاګه کوي کلمه څه ډول پوښتنه مطرح کوي، جوړ کړي.

| | |
|---|---|
| څوک | څه |
| کله | چېرته |

۱۰ دقیقې

6. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې خپل د پېژندپاڼې نمونو او اړینو معلوماتو ته وګوري. هغوی به د هغه پوښتنو یو لست جوړوي چې له خپلو دوستانو او د کورنۍ غړو څخه به یې پوښتي. کله چې دا کار سر ته ورسېد، هغوی دا د نظرونو لپاره له خپلو ملګرو سره شریکولای شي.

زده کوونکو ته ور په یاد کړئ چې کله هغوی نوې مفکورې ترلاسه کوي نو په نمونو کې بدلون راوستل یا بدلول یې په بشپړه توګه یو سم کار دی. په حقیقت کې، د دې کار کول هڅول کېږي!

7. زده کوونکو ته خبر ورکړئ چې هغوی باید د کورنۍ لږ تر لږه ۲ غړو سره مرکې وکړي او د هغوی لپاره پېژندپاڼې جوړې کړي.

## د پېژندپاڼو جوړول

دریېمه ورځ

***زده کوونکي د پوښتنې کولو مهارتونه لاسته راوړي، د خپلو ملګرو لپاره پېژندپاڼې جوړوي، او د دوی ترمنځ د مشابهتونو او توپیرونو شننه ترسره کوي.***

۱۰ دقیقې

1. زده کوونکي د خپلې کورنۍ غړو سره د مرکې کولو تجربه شریکوي او د هغوی پېژندپاڼې ښیي:
- آیا تاسې د خپلې کورنۍ غړي په باره کې نوی کومه خبره ومونده؟
- ستاسې په اند مرکه څنګه ترسره شوه؟ آیا داسې کوم شی و چې تا په لا ښه توګه ترسره کولای شو؟

### فعالیت

***زده کوونکي د پوښتنې عادي کلمې تکراروي:***

زده کوونکي په ګډه سره د پوښتنې عادي کلمې په یو لست کې ترتیبوي:
**څوک، څه، چېرته، کله، ولې، څنګه.**

- اوس، زده کوونکي په یوه دایره کې درېږي، او یو توپ (بال) یو بل ته اچوي. هغه کس چې توپ اچوي، باید د پوښتنې یوه کلمه په لوړ غږ سره ووایي. توپ نیوونکی کس باید د اړونده کلمې په کارولو سره یوه پوښتنه وکړي.

۵ دقیقې

2. په یوه فورمه یا پوښتنپاڼه کې د پوښتنو د مطرح کولو له لارې د معلوماتو د راټولولو د یوې بلې طریقې په توګه د سروې ګانو نظریه تشریح کړئ.

۱۰ دقيقې

3. هغوی به له خپلو دوستانو څخه د معلوماتو راټولولو لپاره يوه سروی ترتيب کړي چې لږ تر لږه ۱۰ پوښتنې به ولري، تر څو د هغوی (د خپلو دوستانو) پېژندپاڼې جوړې کړي. سروی بايد ډول ډول پوښتنې ولري.

**بېلګه:**

| ۳ پرانېستې پوښتنې | ۴ ګڼ انتخابي پوښتنې | ۳ هو/نه پوښتنې |
|---|---|---|
| ته کومه ژبه زده کول غواړې؟ | ستا د خوښې رنګ کوم يو دی: تور، اسماني رنګ، ژېړ | آيا ته له رسم کارولو څخه خوند اخلې؟ |

۱۰ دقيقې

3. زده کوونکي له درې يا زياتو ملګرو څخه د سروې فورمې د ډکولو غوښتنه کوي.

## فعاليت

۱۵ دقيقې

***زده کونکي به د شمېرنې سمبولونو په کارولو سره خپل معلومات/اطلاعات ښيي.***

- يو ځل چې زده کوونکي خپل اطلاعات راټول کړي، له هغوی څخه د بحث د کولو غوښتنه وکړئ چې هغوی لپاره د يو بل په هکله په ترلاسه شويو معلوماتو کې څه شی حيرانوونکی/په زړه پورې و؟
- زده کوونکي د شمېرنې سمبولونو (tally marks) په کارولو سره د سروی اطلاعات د خپلو او د خپلو دوستانو د ځوابونو د جدول بندۍ له لارې تحليل او تجزيه کولای شي. د بېلګې په ډول:

| کټګوري | د شمېرنې يا خط کاږنې سمبولونه (Tally Marks) | ټولټال نومرې |
|---|---|---|
| د خوښې رنګ: تور | III | 3 |

هغوی وهڅوئ چې له انځوريزو سمبولونو (نښانونو/Pictograms) څخه په ګټه اخيستنې سره وښيي چې د هغوی دوستان څومره سره ورته والی لري. د بېلګې په ډول:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ت | III | 3 | |

5. زده کوونکي بايد ارومرو لږ تر لږه د يو دوست لپاره پېژندپاڼه جوړه کړي (او د زياتو پېژندپاڼو جوړولو لپاره ازادي لري). پېژندپاڼه کې بايد له سروی څخه هم معلومات شامل کړل شي.

په دې طريقې سره، زده کوونکي له يوې شفاهي سرچينې (مرکې) او يوې ليکلې سرچينې (سروې) څخه د معلوماتو د وړاندې کولو تمرين کوي.

# د پېژندپانو جوړول

خلورمه ورځ

***زده کوونکي به ځانونه له صفتي نومونو سره بلد کړي او یوه لنډه اصلي کیسه به له هغه خلکو څخه په الهام اخیستلو سره ولیکي/انځور کړي چې دوی تر دې دمه مرکه ورسره کړې ده.***

۱۰ دقیقې

1. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې خپل ۴ صفتونه ولیکي یا په شفاهي توګه تشریح کړي. د بېلګې په ډول، لوړه ونه، خندوونکی، شوخ طبعیت، تور وېښتان درلودل.

۱۰ دقیقې

1. تشریح کړئ چې هغه کلمې چې دوی یې د خپلو ځانونو یا نورو شیانو د تشریح کولو لپاره کاروي، صفتي نومونه بلل کېږي. هغوی تشریح کولای شي:

- رنګ: *توره* پیشو، *اسماني رنګه* توپ، *سپین* وېښتان
- نور فزیکي صفتونه: *نرم* پوستین، *زیږ* مېز، *قدبلنده (دنګه)* نجلۍ، *شور کوونکی* موټر
- د شخصیت اوصاف: خوښ طفل/ماشوم (تي خور)، شوخ کم عمره هلک، زړوره مېرمن
- خوند: *خواږه* انګور، *تروه* شریني، *ترخه* درمل

## فعالیت

۱۵ دقیقې

***زده کوونکي به د صفتي نومونو د کارولو لپاره لوبه کوي.***

- د ۳ یا ۴ کسیزو زده کوونکو ډلو سره لوبه وکړئ.
- هغوی ته یو شی، شخص، یا ځاروی ورکړئ.
- هر ټیم باید د اړونده شي د تشریح کولو لپاره په ۳۰ ثانیو کې څومره ډېر چې کولای شي، صفتي نومونه چمتو کړي.
- د زیاتو صفتي نومونو چمتو کوونکې ډله د اړونده پړاو ګټونکې ده.

۵ دقیقې

3. زده کوونکي به د خپلې کورنۍ د غړو د تشریح کولو لپاره صفتي نومونه کاروي. لاندیني موارد له زده کوونکو سره تر بحث لاندې ونیسئ:

- د کورنۍ د غړو او دوستانو په اړه، چې تاسې ورته پېژندپاڼې جوړې کړې، فکر وکړئ. تاسې لپاره څوک واقعاً په زړه پورې یا الهام بخښونکی دی؟
- د هغوی کوم ځانګړي صفتونه دي چې تاسې ته دا ډول احساس درکوي؟
- تاسې څنګه هغوی سره ورته والی یا توپیر لرئ؟

۳۰ دقیقې

2. زده کوونکي به د دغه شخص په پام کې نیولو سره یوه کیسه لیکي. تشریح کړئ چې کیسې پیل، منځ او پای لري. هغوی ته د کیسې لیکلو د ټول بهیر لارښوونه وکړئ:

| | |
|---|---|
| پیل | شخص معرفي کړئ. هغه څنګه ښکاري؟ هغه چېرته دی؟ څه کوي؟ |
| منځ | هغه به په کیسه کې له کومې ستونزې سره مخامخ کیږي؟ هغه به د ستونزې د هوارۍ لپاره له خپلو ځانګړو صفتونو څخه څنګه ګټه اخلي؟ صفتي نومونه وکاروئ! |
| پای | دا ستونزه څنګه هوارېږي؟ د کیسې په پای کې څه کیږي؟ |

*زده کوونکي کولای شي د خپلې کیسې لپاره شعرونه ولیکي، اوخندوونکي رسمونه رسم کړي او داسې نور کارونه وکړي. کیسه غیرحقیقي کېدای شي او اړینه نه ده چې اصلي کردار دې یې پخپله دا شخص وي (باید یوازې د هغوی په پام کې نیولو پر بنسټ وي).*

۱۰ دقیقې

3. زده کوونکي به د نظرونو د شریکولو په موخه خپلې کیسې له خپلو ملګرو سره شریکوي:

- په کیسه کې څه شی ستا تر ټولو زیات خوښ شو؟
- څه شی لا ښه کېدای شي؟

4. زده کوونکي به د نظرونو پر بنسټ د کیسې بیاکتنه ترسره کوي. هغوی وهڅوئ چې کیسه هغه کس ته واوري چې دوی یې په اړه لیکلې او د هغوی پېژندپاڼې سره ورته نښې نښانې لري.

## پنځمه ورځ

# د پېژندپاڼو جوړول

***زده کوونکي به خپلې پېژندپاڼې، کیسې او زده کړې شیان وړاندې کوي.***

۱۰ دقیقې

1. زده کوونکي د اټکل کولو لوبه کولو ته راوبولئ – مخکې له دې چې د هغوی کارتونه وویشل شي، زده کوونکی باید له پېژندپاڼې څخه اشارې شریکې کړي چې خلکو لپاره دا وړاندوینه کول ستونزمنوي چې کارت د چا په اړه دی! د بېلګې په ډول، 'دا شخص پیشوګانې خوښوي، په نوم کې یې د (ا) توری راځي، او ۲ نژدې دوستان لري'.

زده کوونکي له هغه پېژندپاڼو څخه په ګټه اخیستلو سره، چې دوي جوړې کړي، خپلې لوبې هم جوړولای شي!

۱۰ دقیقې

2. زده کوونکي وهڅوئ چې له خپلو دوستانو څخه نظرونه ترلاسه کړي:
- آیا هغوی خپله پېژندپاڼه خوښه کړه؟
- آیا هغوی نور بدلونونه راوستل یا یې نور شکلی کول (تزئینول) غواړي؟

۵ دقیقې

3. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې خپلې لنډې کیسې یا کاریکاتوري لړۍ/کیسې له خپلو ملګرو سره شریکې کړي.

۵ دقیقې

4. په لارښودونکې پوښتنه باندې نظر واچوئ: آیا تاسې د خپلې کورنۍ یا دوستانو لپاره داسې پېژندپاڼې جوړولای شئ چې ځینې ورته والي، توپیرونه، او بعضې نور شخصي معلومات پکې رانغښتي وي؟

5. زده کوونکي له خپلو ملګرو سره بحث کوي او یادداښت اخلي:

۱۰ دقیقې

- هغه کوم نوي شیان دي چې هغوی د دې پروژې په ترڅ کې زده کړل؟
- څه شی هغوی لپاره اسانه ثابت شو؟ څه شی ننګوونکی و؟
- هغوی په بله پروژه کې څه شی د اوس په پرتله په لا ښه توګه ترسره کولای شي؟

## د ریاضي لوبه

۱۵ دقیقې

***زده کوونکي له ۱ څخه تر ۱۰ پورې عددونو د بیاکتنې لپاره په کتار کې د تنظیمېدو لوبه ترسره کوي***

- زده کوونکي لږ تر لږه په دوه ۱۰ کسیزه ډلو ووېشئ. (تاسې کولای شئ د ۷، ۸، یا ۹ کسانو ډله ولرئ، که اړتیا وه)
- د ټیم د هر غړي په شا پر یوه کاغذ له ۱ څخه تر ۱۰ پورې لیکلی یو عدد ونښلوئ.
- زده کوونکي باید په چټکۍ سره ځانونه د خپلو عددونو، د تر ټولو ټیټ څخه د تر ټولو لوړ په ترتیب سره، په کرښه کې تنظیم کړي.
- لومړی ټیم چې په سمه توګه خپله کتار جوړونه سر ته رسوي، ګټونکی دی.

دريمه پروژه

# زما ښکلي مرغۍ

| | |
|---|---|
| شرحه | زده کوونکي به له ۱ څخه تر ۱۰ پورې عددونو په تړاو خپله پوهه لا پياوړې او له ۱۱ څخه تر ۲۰ پورې عددونو د شمېرلو او ليکلو مفهوم د اخيستلو لپاره خپله مرغۍ ډيزاين کړي. |
| اړين توکي | کاغذ، قلم/پنسل، زړې ورځپاڼې/چارټونه، سرېښ/سرېښناکه پټۍ، رنګونه (اختياري) |
| زده کړه ييزې لاسته راوړنې | **د عددپېژندنې کليدي لاسته راوړنې:**<br>• له ۱۱ څخه تر ۲۰ پورې عددونه شمېرل<br>• له ۱۱ څخه تر ۲۰ پورې عددونه ليکل<br>• د شيانو د کارولو په مرسته عددونه ښودل<br>• په ترتيب سره مخته او شا ته عددونه شمېرل<br>• د نورو عددونو مخکې، وروسته او منځ کې عددونه پېژندل<br>**د يوويشتمې پېړۍ مهارتونه:**<br>• د خپل هنري کار په ډيزاينولو کې خلاقيت<br>• له ۱۰ څخه وروسته د عددونو د ترتيب جوړولو د څرنګوالي په تړاو انتقادي فکر کول<br>• د يو کار په تړاو چې هغوی ته ښودل شوی، نظرونه شريکول. |

## د پروژې عمومي کتنه

**1** له ۱ څخه تر ۱۰ پورې عددونو بياکتنه ترسره کول او له ۱۱ څخه تر ۱۲ پورې عددونو شمېرنه زده کول

**2** د ۱۳ او ۱۴ عددونو زده کول او د عدد کرښې څېړل. د خپلې مرغۍ لپاره نورې د 'لکۍ بڼکې' جوړول.

**3** د ۱۵ او ۱۶ عددونه زده کول او د لوبو له لارې يې بياکتنه ترسره کول. د مرغۍ لپاره نورې د 'لکۍ بڼکې' جوړول

**4** د ۱۷، ۱۸، او ۱۹ عددونو زده کول او بيدارۍ (ذهني چمتووالي) تمرين کول. د خپلې مرغۍ لپاره نورې د 'لکۍ بڼکې' جوړول.

**5** د ۲۰ عدد زده کول. د خپلې مرغۍ پوره کول او خپلو ملګرو ته يې وړاندې کول.

# زما ښکلې مرغۍ

لومړۍ ورځ

له زده کوونکو سره په لارښودونکې پوښتنه باندې بحث وکړئ:

## ستاسې مرغۍ څو د لکۍ بڼکې لري؟



په بحث کې د مرستې لپاره لاندینۍ پوښتنې وکړئ:

- آیا ته د یو څو مارغانو نومونه اخیستلای شې؟
- آیا ته د یوې مرغۍ انځور رسمولای شې؟
- د نورو ځاروو بدنونو ته په کتو، د مرغۍ بدن څه توپېر لري؟
- د مرغۍ لکۍ له څه شي څخه جوړه ده؟
- ستا په اند د یوې مرغۍ لکۍ څو بڼکې لري؟

## فعالیت

***له ۱ څخه تر ۱۰ پورې عددونو شمېرلو او پېژندلو باندې بیاکتنه ترسره کول*** — ۱۰ دقیقې

زده کوونکې په لاندینۍ طریقې سره د بېلا بېلو شیانو د موندلو او په صعودي ترتیب سره یې د تنظیمولو لپاره په جوړه یې بڼه کار کولای شي:
۱ دېګ، ۲ کتابونه، ۳ بوتلونه، ۴ بکسونه، ۵ پنسلونه، ۶ ټوکرونه، ۷ جامونه، ۸ قابونه، ۹ بکسې، او ۱۰ بوټونه.

له بل اړخه، هغوی کولای شي خپلې ګوتې پورته کړي چې له ۱ څخه تر ۱۰ پورې عددې انځوروي او له خپل ملګري څخه د هغه عدد، چې دوی یې ښکاره کوي، د ویلو غوښتنه وکړي او بیا، د هر عدد لپاره د ګوتو په ښکاره کولو سره، په ګډه سره له ۱ څخه تر ۱۰ پورې شمېرنه ترسره کړي.

۵ دقیقې

1. د ۱۱ او ۱۲ عددونو د تشریح کولو لپاره له زده کوونکو سره بحث وکړئ:
   - ستاسې په اند ۱۰ پسې کوم عددونه راځي؟
   - تاسې څه فکر کوئ چې تاسې به دا عددونه څنګه لیکئ؟

۵ دقیقې

2. د ۱۱ او ۱۲ عددونه وښایاست/ولیکئ او تشریح کړئ:
   - ۱۱ عبارت له ۱۰ او ۱ څخه دی، نو ځکه، د دوه لښتو په څېر، د ۱ عدد غبرګ لیکلو سره لیکل کېږي.
   - ۱۲ عبارت له ۱۰ او ۲ څخه دی، نو د ۱ او ۲ په بڼه لیکل کېږي، لکه یوه لښته او یوه هیلۍ.

۱۰ دقیقې

3. زده کوونکي په بېلا بېلو طریقو سره د ۱۱ او ۱۲ عددونو د لیکلو تمرین کوي:



- په کاغذ باندې په ګوته تعقیبول: په کاغذ باندې عددونه ۱۰ ځلې په ګوته ګرځولو سره تقیبوي.
- په خاوره/شګه کې لیکل: په څمکه باندې د ۱۱ او ۱۲ عددونو لیکل.
- په هوا کې رسم کارل: د لاس په حرکتونو سره په هوا کې د لیکلو تمرین کول.

## فعالیت

۱۰ دقیقې

***زده کوونکي به د 'شمېرنې یو چارټ' جوړوي.***

پر یوه کاغذ باندې، زده کوونکي به د ۱ عدد لیکي او څنګ ته به یې یو شی رسموي.
په بل کتار کې، هغوی به د ۲ عدد لیکي او څنګه ته به یې ۲ شیان رسموي.

| | |
|---|---|
|  | ۱۱ |
|  | ۱۲ |


زده کوونکي چې څه شی وغواړي رسمولای شي. دا شکلونه یا سمبولونه هم کېدای شي.

له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې د عدد په تلفظ کولو او د هغه څه په لیکلو سره چې دوی لپاره مفهوم ورکوي، په چارټ کې د عدد نومونه (یو، دوه) ولیکي! د بېلګې په ډول، هغوی د یوولس پر ځای 'الس' هم لیکلای شي.

۱۵ دقیقې

4. زده کوونکي به د خپلې مرغۍ د 'لګی بنګې' جوړول پیل کړي:

- د یوه بالغ کس په مرسته، هغوی باید ۱۰ بیضوي (هګۍ ته ورته) شکلونه غوڅ کړي (په تقریبي ډول هره بیضوي باید د یوه عادي پنسل په اندازه اوږده وي)
- که اړین و، تشریح کړئ چې بیضوي څه ته وایي.
- که شونې وي، زده کوونکي کولای شي بنګو ته د خپلې خوښې رنګ ورکړي.
- هغوی باید دوه بیضوي شکلونه واخلي. پر هر شکل باندې باید هغوی عدد ولیکي او په همغه اندازه دایرې (یا بل کوم شکل)، لکه څرنګه چې په انځور کې ښودل شوي، رسم کړي. زده کوونکي باید دا فعالیت د ۱۱ او ۱۲ عددونو لپاره ترسره کړي.




۵ دقیقې

5. زده کوونکي باید دا دوه بیضوي شکلونه له ځان سره وساتي او له خپلو ملګرو سره بحث وکړي چې نن هغوی د څه شي په اړه د زده کړه کولو څخه خوند واخیست.

دویمه ورځ


# زما ښکلي مرغۍ

***زده کوونکي به د عدد کرښې کارولو څرنګوالی او د لږ د نورو ښکو د جوړولو لپاره به ۱۳ او ۱۴ عددونه زده کړي.***

*۵ دقیقې*

1. د عدد کرښې کارولو لپاره زده کوونکي د لاندیني کار ترسره کولو ته راوبولئ:

- د یوه خط کش یا د یوې مستقیمې څنډې درلودونکي یو شي (د بېلګې په ډول، د یو بکس یا کتاب څنډه/ژۍ) په مرسته یو افقي خط کش کړئ.
- د کرښې لاندې له ۱ څخه تر ۱۲ پورې عددونه ولیکئ.
- د هر عدد ترمنځ مساوي واټن وساتئ. ستاسې ملګری او تاسې د عددونو ترمنځ د خپلې ګوتې په ایښودلو سره له یوه بل مرسته کولای شئ تر څو د هر عدد ترمنځ مساوي واټن باوري کړئ.




*۵ دقیقې*

2. له زده کوونکو سره د لاندې ورکړل شویو پوښتنو په څېړ پوښتنو کولو سره دا معلومولو کې مرسته وکړئ چې کوم عددونه لومړی، کوم عددونه وروسته او کوم د نورو عددونو ترمنځ راځي:

- د ۶ نه مخکې کوم عدد راځي؟
- د ۱ نه وروسته کوم عدد راځي؟
- د ۷ او ۹ ترمنځ کوم عدد راځي؟
- د ۱۱ نه وروسته کوم عدد راځي؟

## فعالیت

*۱۰ دقیقې*

**زده کوونکي به له ۱ څخه تر ۱۲ پورې هغه عددونه په *ګوته کړي* چې د نورو عددونو نه مخکې، وروسته، یا په منځ کې راځي.**

د عددونو د یوې کرښې د جوړولو لپاره پر فرش باندې د تشخاپونو درلودونکي یو خط کش کړئ.

د سم ځواب په انتخابولو سره لاندیني پوښتنې ځواب کړئ:

- د ۵ نه وروسته کوم عدد راځي؟
- د ۱ نه مخکې کوم عدد راځي؟
- د ۱۰ او ۱۲ ترمنځ کوم عدد راځي؟

په خط باندې د قدم په وهلو سره له ۱۲ څخه معکوس (شا ته) شمېرنه ترسره کړئ.

د یوې بلې طریقې له لارې، زده کوونکي هم د عددونو په کرښه کې د عددونو په توګه نقش لوبولای شي.

۱۵ دقیقې

3. د لاندې مواردو په تشریح کولو سره د ۱۳ او ۱۴ عددونه تشریح کړئ:
- ۱۳ عبارت دی له ۱۰ او ۳ څخه، نو دا د ۱ او ۳ په بڼه لیکل کیږي.
- ۱۴ عبارت دی له ۱۰ او ۴ څخه، نو دا د ۱ او ۴ په بڼه لیکل کیږي.

4. له زده کوونکو سره بحث وکړئ:
- تاسې به د ۱۰ عدد نه غټ عددونه، لکه ۱۳ او ۱۴، چېرته کاروئ؟
- آیا ستاسې په کور کې داسې شیان شته دی چې تاسې یې د ۱۳ او ۱۴ په تعداد کې لرئ؟

4. د ۱۳ او ۱۴ عددونو لیکلو څرنګوالی تشریح کړئ. زده کوونکي کولای شي په کاغذ باندې په دې عددونو باندې ګوتې وګرځوي، یا په هوا کې یا په خاوره/شګه کې یې رسم کړي. هغوی وهڅوئ چې د هر یو عدد لږ تر لږه ۱۰ ځلې لیکلو تمرین وکړي.

۵ دقیقې

4. زده کوونکي باید بیا ۱۳ او ۱۴ عددونه خپل د لیکلو چارټ او د عددونو خپلې کرښې ته ورزیات کړي.

له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې په ساده توګه د عدد په تلفظ کولو سره پر جدول/چارټ د عددونو نومونه او هغه څه ولیکي چې هغوی لپاره مفهوم افاده کوي!

## د ریاضي لوبه

۱۰ دقیقې

***زده کوونکي له ۱ څخه تر ۱۴ پورې عددونو د شمېرلو لپاره د شیانو د لټولو لوبه کوي***
- زده کوونکي په ۲ یا ۳ کسیزو ډلو کې لوبه کولای شي.
- له ۱ څخه تر ۱۴ پورې یو عدد په لوړ غږ وواياست
- زده کوونکي باید ارومرو په هماغه اندازه شیان ژر تر ژره راټول کړي.
- هغه لوبغاړی ۱ نومره ترلاسه کوي چې ژر تر ژره په درست تعداد سره شیان راوړي.
- د تر ټولو لوړو نومرو درلودونکی ټیم ګټونکی دی.

۱۰ دقیقې

7. زده کوونکي باید د کاغذ په جلا ټوټو باندې د ۱۳ او ۱۴ عددونو لپاره د لګی بڼکې جوړې کړي (لکه څرنګه چې په لومړنۍ ورځ یې ترسره کړې و).

۵ دقیقې

7. زده کوونکي د 'لګی بڼکې' خپل ملګري ته ښيي او بحث کوي:
- د هغوی د کار په برخه کې څه شی ستاسې خوښ شو؟
- آیا د هغوی د کار د لا ښه کولو لپاره اړینې برخې شتون لري؟

درېیمه ورځ

# زما ښکلي مرغۍ

***زده کوونکي به د عددونو کرښې د استعمال څرنګوالي باندې بیاکتنه ترسره او د لګې د نورو ښکو د جوړولو لپاره به د ۱۵ او ۱۶ عددونه زده کړي.***

۵ دقیقې

1. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې لاندینیو پوښتنو د ځواب ميندلو لپاره د عددونو له کرښې څخه چې هغوی په دویمه ورځ جوړه کړه، ګټه واخلي:
   - د ۴ نه مخکې کوم عددونه راځي؟ یا هغه کوم عددونه دي چې د ۴ نه کم دي؟
   - د ۷ نه وروسته کوم عددونه راځي؟ یا هغه کوم عددونه دي چې د ۷ نه غټ دي؟
   - له ۱ څخه تر ۱۴ پورې مخ ته او له ۱۴ نه تر ۱ پورې شا ته شمېرنه ترسره کړئ.

۱۵ دقیقې

2. د ۱۵ او ۱۶ عددونه تشریح کړئ.
   - زده کوونکي له خپلو ملګرو سره دا عددونه په خپلو ګوتو ښودلای شي.

3. د ۱۵ او ۱۶ عددونو د لیکلو څرنګوالي باندې رڼا واچوئ. زده کوونکي کولای شي دا عددونه په کاغذ په ګوته ګرځولو سره تعقیب کړي، او په هوا کې یا په خاوره/شګه یې رسم کړي. هغوی وهڅوئ چې د هر یو عدد لږ تر لږه ۱۰ ځلې لیکلو تمرین وکړي.

۵ دقیقې

4. زده کوونکي باید بیا د ۱۵ او ۱۶ عددونه خپل د لیکلو چارټ او د عددونو خپلې کرښې ته ورزیات کړي.

## د ریاضي لوبه

۵ دقیقې

***زده کوونکي به د ۱ نه تر ۱۶ پورې عددونو په کارولو سره د سترګو جنګ لوبه وکړي.***

- له یو ملګري سره جوړه شئ.
- د یو او بل په سترګو کې وګورئ او سترګې مه رپوئ.
- له خپل ملګري سره په نوبتي بڼه له ۱ نه تر ۱۶ پورې شمېرنه پیل کړئ.
- لومړی چې چا سترګې ورپولې، بایلونکی دی.
- که تاسې د سترګو رپولو پرته ۱۶ ته ورسېږئ، د معکوس شمېرلو هڅه وکړئ تر هغې چې له تاسې څخه یو کس سترګې ورپوي.



۱۰ دقیقې

5. زده کوونکي باید د کاغذ په جلا ټوټو باندې د ۱۵ او ۱۶ عددونو لپاره د لکۍ بښکې جوړې کړي.

۵ دقیقې

5. زده کوونکي د 'لکۍ بښکې' خپل ملګري ته ښيي او بحث کوي:
- د کومو طریقو څخه معلومېږي چې د هغوی کار ورته والی لري؟
- د کومو طریقو څخه معلومېږي چې د هغوی کار توپیر لري؟

## فعالیت

۱۰ دقیقې

***د ۱۱ نه تر ۱۶ پورې عددونه په ګوته کول.***

له خپلو ملګرو سره د ۱۱ نه تر ۱۶ پورې عددونو د جوړولو هڅه وکړئ او له نورو څخه غوښتنه وکړئ چې اټکل وکړي!



# زما ښکلې مرغۍ

خلورمه ورځ

***زده کوونکي به د عددونو کرښې د استعمال څرنګوالي باندې بیاکتنه ترسره کړي او د لکۍ د نورو بښکو د جوړولو لپاره به د ۱۷، ۱۸، او ۱۹ عددونه ولیکي او وشمېري.***

۱۰ دقیقې

1. زده کوونکي د لاندینیو کارونو کولو ته راوبولئ تر څو د هغه څه بیاکتنه وشي چې هغوی زده کړي دي:
- د ۱۲، ۱۵، ۹، ۶، او ۰ عددونه لیکل.
- له خپل ملګري سره د ۱۰ نه تر ۱۶ پورې شمېرنه ترسره کول

۱۰ دقیقې

2. له زده کوونکو سره بحث وکړئ:
- آیا د ۱۰ نه وروسته عددونو په اړه تاسې کوم شی مشاهده کړی دی؟
- آیا تاسې اټکل کولای شئ چې مونږ څنګه کولای شو وروستي/راتلونکي دوه عددونه ولیکو؟
- ستاسې د اټکل تر شا څه دلیل دی؟

د دې اټکل موخه له زده کوونکو سره دا مشاهده کولو کې مرسته کول دي چې د ۱ نه تر ۱۰ پورې او ۱۱ نه تر ۱۹ پورې د عددونو دوران تکرارېږي.

۱۰ دقیقې

3. د ۱۷، ۱۸، او ۱۹ عددونه معرفي کړئ.
- زده کوونکي له خپلو ملګرو سره دا عددونه په خپلو ګوتو ښودلای شي.

۱۰ دقیقې

5. د ۱۷، ۱۸، او ۱۹ عددونو د لیکلو څرنګوالي باندې رڼا واچوئ. زده کوونکي کولای شي دا عددونه په کاغذ د ګوتو په ګرځولو سره تعقیب کړي، په هوا کې یا په خاوره/شګه یې رسم کړي. هغوی وهڅوئ چې د هر یو عدد لږ تر لږه ۱۰ ځلې لیکلو تمرین وکړي.

۵ دقیقې

6. زده کوونکي باید بیا دا عددونه خپل د شمېرنې چارټ ته ورزیات کړي.

## د ذهني بیدارۍ معمول

۱۰ دقیقې

***زده کوونکي دې له عددونو څخه په استفادې سره د ساه اخیستلو تمرین وکړي.***

ارام کښېنئ.

ساه دننه کش کړئ په داسې حال کې چې تاسې تر ۵ پورې شمېرل کوئ. تاسې د مرستې لپاره له خپلو ګوتو څخه ګټه اخیستلای شئ.

کله چې تاسې ساه اوباسئ، له ۶ څخه تر ۱۰ پورې وشمېرئ.

همدا دوران له ۱۱ څخه تر ۱۵ پورې او له ۱۶ څخه تر ۱۹ پورې تکرار کړئ.

دا عمل یو څو ځلې ترسره کړئ ترڅو چې تاسې ځانونه راحت احساس کړئ.

۱۰ دقیقې

7. زده کوونکي باید بیا د کاغذ په درې جلا ټوټو باندې د ۱۷، ۱۸، او ۱۹ عددونو لپاره د لګې بنګې جوړې کړي.

۵ دقیقې

8. زده کوونکي د 'لګې بنګې' خپلو ملګرو ته ښيي او بحث کوي:

- د هغوی د کار په برخه کې څه شی ستاسې خوښ شو؟
- آیا د هغوی د کار د لا ښه کولو لپاره اړینې برخې شتون لري؟

## فعالیت

۱۰ دقیقې

***زده کوونکي د خپلې ټولګې/کولیکسون په جوړولو سره له ۱ نه تر ۱۹ پورې شمېرنه باندې بیاکتنه ترسره کوي.***

- په خپل کور کې قدم ووهئ او وګورئ چې آیا تاسې لاندیني شیان پیدا کولای شئ؟ تاسې همدارنګه کولای شئ دغه شیان یا رسم یا راټول کړئ.
    - ۹ د بېلا بېلو شکلونو درلودونکې پاڼې
    - ۱۱ تیږې یا کاڼي
    - ۱۴ نیالګي
    - ۱۸ وریځې
- تاسې کولای شئ په خپله ټولګه کې د خپلې خوښې یو بل شی هم وزیات کړئ او شمېرنه وکړئ چې تاسې یاد شان څومره لرئ. د بېلګې په ډول، ګلونه یا لښتې.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسې د دې کار لپاره پاڼې او ګلونه و نه شکوئ!

پنځمه ورځ

# زما ښکلي مرغۍ

***زده کونکي د ۲۰ عدد زده کوي او د خپلو مرغيو جوړول سر ته رسوي.***

## د رياضي لوبه

***زده کوونکي له ۱ نه تر ۱۹ پورې د عددونو په کارولو سره د شمېرلو لوبه کوي.***

***۱۵ دقيقې***

- دا لوبه په ډله ييزه يا جوړه يي بڼه کېدای شي.
- لومړی لوبغاړی د ۱ او ۱۹ ترمنځ عدد په لوړ غږ وايي.
- تر څو چې لومړی لوبغاړی 'بس دی' نه وي ويلي، دويم لوبغاړی بايد هماغه عدد پسې عددونه شمېرل پيل کړي
- بېلګه: لومړی لوبغاړی د ۷ عدد غږ باسي، دويم لوبغاړی شمېرنه پيل کوي، ۸، ۹، ۱۰ ....، تر هغې چې لومړی لوبغاړی غږ وکړي چې بس دی.




- له زده کوونکو څخه په چټکۍ سره د شمېرلو د غوښتنې په کولو سره لوبه سخته کړئ.
- زده کوونکي کولای شي ځای پر ځای منډه کړي او په يوه ساه شمېرنه ترسره کړي، کله چې د هغوی ساه لنډېږي او ساه اخيستلو ته اړتيا ولري، بل کس ادامه ورکوي. هغوی دا کار د مخ ته او شا ته شمېرلو لپاره ترسره کولای شي.
- هغه کس ګټونکی دی څوک چې د منډه وهلو پر مهال په يوه ساه تر نورو زيات درست عددونه ووايي.

***۵ دقيقې***

1. له زده کوونکو سره بحث وکړئ:
   - ستاسې په اند د ۱۹ نه وروسته کوم عدد راځي؟ ولې؟

***۵ دقيقې***

2. د لاندينيو موادرو په تشريح کولو سره د ۲۰ عدد باندې رڼا واچوئ
   - ۲۰ عبارت دی له دوه لسګونونو څخه
   - دا د ۲ او ۰ په بڼه ليکل کېږي.

***۱۰ دقيقې***


3. د ۲۰ عدد ليکلو څرنګوالي باندې رڼا وچواځ. زده کوونکي کولای شي دا عدد په کاغذ باندې د ګوتې په ګرځولو سره تعقيب کړي، يا په هوا کې يا په خاوره/شګه کې يې رسم کړي. هغوی وهڅوئ چې د هر يو عدد لږ تر لږه ۱۰ ځلې ليکلو تمرين وکړي

3. زده کوونکي بايد بيا د ۲۰ عدد خپل د شمېرلو چارټ ته ورزيات کړي.

# فعالیت

۱۰ دقیقې

***زده کوونکي له ۱ نه تر ۲۰ پورې عددونه شمېري او لیکي.***





- د ۲۰ دایرو درلودونکی یو چینجی چې نمونه یې ستاسې په کتاب کې ورکړل شوې، په خاوره کې رسم کړئ.
- په لومړنۍ دایره کې ۱ ولیکئ.
- چینجي له یو ملګري سره تبادله کړئ او پاتې دایرې په سمه توګه په ترتیب سره ډکې کړئ.
- د کره کتنې لپاره بیاځلې یې تبادله کړئ.

۵ دقیقې

5. زده کوونکي باید بیا د ۲۰ عدد لپاره د لکۍ بڼکې جوړې کړي.

۱۵ دقیقې




6. زده کوونکي بیا کولای شي د مرغۍ بدن جوړ کړي. هغوی کولای شي څومره جزئیات یې چې خوښ وي، هومره پکط اضافه کړي. ډاډ ترلاسه کړئ چې هغوی یوه غټه تنه جوړه کړي تر څو وکولای، شي لکه څرنګه چې په انځور کې ښودل شوي، د لکۍ بڼکې ورپورې ونښلوي.

6. زده کوونکي باید خپل د لکۍ بڼکې له ۱۱ څخه تر ۱۰ پورې په ترتیب سره منظمې کړي او بیا یې د مرغۍ تنې پورې ونښلوي.

8. زده کوونکي باید بیا د ۲۰ عدد لپاره د لکۍ بڼکې جوړې کړي.

۱۰ دقیقې

8. زده کوونکي خپلې مرغۍ لپاره نوم غوره کوي او د نظر شریکولو لپاره یې خپل ملګري ته وړاندې کوي:
   - زما په مرغۍ کې ستا څه شی خوښ شو؟
   - آیا امکان یې و چې ما تر دې هم ښه مرغۍ جوړه کړې وی؟

۱۰ دقیقې

10. زده کوونکي نظر شریکوي او له خپل ملګري سره بحث کوي:
   - هغوی په دې پروژه کې درې شیان زده کړل
   - هغوی له دوه شیانو څخه زښت ډېر خوند واخیست
   - یوه پوښتنه هغوی لا هم په ذهن کې لري

*زده کوونکي باید خپله مرغۍ خپلې کورنۍ ته هم وښیي او تشریح کړي چې څنګه یې جوړه کړې ده.*

# ځلورمه پروژه

# تصور وکړئ چې!

| | |
|---|---|
| شرحه | زده کوونکي د خپلې شاوخوا نړۍ ښې ښېلا ښېل اړخونه مشاهده کوي او بيا له خپل تخيل څخه په ګټه اخيستنې سره خپله نړۍ جوړوي. |
| اړين توکي | کاغذ، قلم/پنسل<br>رنګه پنسلونه/رنګه شمعې يا موم |
| زده کړه ييزې لاسته راوړنې | **کليدي لاسته راوړنې:**<br>• د تصور/تخيل منځته راوړل او پلټل<br>• د انځوريزو سمبولونو/نښو څخه په ګټه اخيستنې سره معلومات څرګندول<br>• خپل چاپېريال درک کول<br>• شکلونه او رنګونه پېژندل<br><br>**د ۲۱ مې پېړۍ مهارتونه:**<br>• د اظهار د بېلا بېلو ډولونو په څېرلو کې خلاقيت<br>• د خپل او د نورو د لومړيتوبونو په هکله انتقادي فکر کول<br>• ملګرو ته د نظرونو د ورکولو او د کار وړاندې کولو له لارې نظر شريکول |

## د پروژې عمومي کتنه

**1** د خپلې نړۍ په هکله بيا تصور کول او شکلونه او رنګونه څېړل

**2** خپل شاوخوا دندې پلټل او خپله د ارمانونو دنده منځته راوړل

**3** د خپل شاوخوا لمانځل کېدونکي جشنونه پلټل او د خپلې خوښې جشن ترتيبول

**4** د انځوريزو نښو په کارولو سره د اطلاعاتو ښودل، خپل د خوبونو ښوونځی جوړول، او د شمېرنې د تمرين لپاره د رياضي لوبه کول

**5** په يوه کيسه کې خپله تخيلي نړۍ ترتيبول

# لومړی ورځ

# تصور وکړئ چې!

۵ دقیقې

زده کوونکو سره په لاربښودونکې پوښتنه باندې بحث وکړئ:

**که تاسې وکولای شئ خپله نړۍ جوړه کړئ، دا به څه ډول وي؟**

په بحث کې د مرستې لپاره لاندینۍ پوښتنې وکړئ:

- تاسې خپلې شا و خوا نړۍ کې څه شی خوښوئ؟
- تاسې د خپلې شا و خوا نړې کې څه شی نه خوښوئ؟
- که تاسې وکولای شو، په نړۍ کې به څه شی بدل کړئ؟

۱۵ دقیقې

1. زده کوونکې راوبولئ چې د خپل شاوخوا چاپېریال او په دې کې د خپلو ځانونو په هکله د خپلې خوښې انځور رسم کړي – دا په کور کې، په بازار کې، یا بل کوم ځای کې کېدای شي.

۱۰ دقیقې

1. زده کوونکې بیا باید له خپلو ملګرو سره کار وکړي چې هغه شیان په ګوته کړي چې د هغوی په رسمونو کې د ځانګړې شکلونو درلودونکې دي او یادښت دې پې ولیکي. د بېلګې په ډول:
   i. دایره د لمر د پاره
   ii. مثلث د یوه کور د چت لپاره
   iii. قیف یا مخروطي شکل د ایسکریم/شیریخ د کون/قیف لپاره
   iv. مربع د کړکیو او داسې نورو شیانو لپاره
   v. کروي شکل د مېوو لپاره
- هغوی کولای شي ځینې شکلونه که مخکې له مخکې هلته نه وي، په خپل رسم کې شامل کړي.

3. زده کوونکې بیا کولای شي خپل رسمونه رنګ کړي.

۱۰ دقیقې

3. مونږ اوس زده کوونکو ته اجازه ورکوو چې خپل تصور پیل کړي او دوباره فکر وکړي چې هر شی څه ډول دی. زده کوونکې به دا ډول عادي شکلونه د رسمولو لپاره شیان غوره کړي او بیا به دغه شیان متفاوت وانګېري، هغوی کولای شي لاندینی جدول ډک کړي یا که هغوی لیکل نه شي کولای رسم دې کړي.

| ګڼه | شی | شکل | بیاځلې متصور شوی شکل |
|---|---|---|---|
| ۱. | لمر | دایره | مربع |
| ۲. | ډوډۍ | مربع | مثلث |
| ۳. | چت | مثلث | دایره |
| ۴. | مخ | بیضوي | ستور-شکله |
| ۵. | ځمکه | کُرّه | مستطیل |

۱۵ دقیقې

5. زده کوونکي به اوس یو نوی رسم کاږي او رنګ به پې کړي.
- هغوی ۵ عادي شیان غوره کولای شي چې بڼې پې بدلې کړي.
- هغوی به اوس د ټولو رنګونو په اړه هم له سره فکر کوي، د هر ډول متوقعه/واقعي رنګونه کارولو څخه باید ډډه وشي. د بېلګې په ډول، اسمان کیدای شي چې ژېړ وي، وریځې کیدای شي چې ارغواني وي، بحر کیدای شي چې شین وي، او داسې نور

۵ دقیقې

7. زده کونکي باید بیا بیاځلې متصور شوي شیان او خپل نوي شکلونه خپل ملګري ته وښيي. هغه څه هغوی پې شریکولای شي:
- په پریزنټېشن کې څه شی د هغوی خوښ شو
- څه شی موجود نه و یا په وریځو کې ښه والی راوستل شوی دی
- د بهبود لپاره نور هر ډول وړاندېزونه

8. که اړتیا وي، زده کوونکي کولای شي په خپلو رسمونو کې بدلونونه راولي.

# دویمه ورځ

# تصور وکړئ چې!

***زده کوونکي موجوده وظیفې څېړي او د خپلې خوښې یوه دنده ډیزاینوي.***

۱۰ دقیقې

1. له زده کوونکو سره بحث وکړئ:
- ځیني کومې ډول ډول دندې دي چې ستاسې شاوخوا خلک پې ترسره کوي؟

۲۰ دقیقې

2. زده کونکي بیا کولای شي د ۴ دندو/وظیفو لپاره د لاندینیو جزئیاتو په اړه د بحث کولو او لیکلو لپاره په ۳ یا ۴ کسیزه ګروپونو کې کار وکړي (کم عمره زده کوونکي کولای شي چې رسم وکاږي او په شفاهي توګه پې تشریح کړي):
- د دندې نوم څه دی؟
- سړی هره ورځ په خپله دنده کې څه کوي؟
- د دې دندې ترسره کولو لپاره خلک څه ډول پوهاوي/معلوماتو ته اړتیا لري؟

۱۰ دقیقې

3. زده کوونکي به اوس تصور وکړي چې هغوی څه جوړېدل غواړي.
- هغوی څنګه چې پې خوښه وه، هماغسې تصور کولای شي – هغوی دا هم کولای شي چې یا ځانونه په یوه موجوده وظیفه کې لیدل غوره کړي یا د خپلې خوښې د یوې وظیفې تصور وکړي.
- د بېلګې په ډول: زده کوونکي کولای شي چې غوره کړي چې لوی شي، یو ډاکټر شي یا د خپلې خوښې یوه دنده/وظیفه منځته راوړي لکه د ایسکریم/شیریخ خوند څکونکی.

۲۰ دقیقې

4. زده کوونکي به د خپلې خوښې وظیفې/دندې په اړه یو لنډ رپوټ ولیکي یا به يې په انځوریز بڼه رسم کړي چې پکې به لاندیني جزئیات شامل وي:
- په ژوند کې یوه ورځ به څنګه وبریښي؟
- هغوی د دندې لپاره کوم مشخصو مهارتونو یا زده کړو ته اړتیا لري؟
- هغوی دا دنده ولې غواړي؟

کم عمره زده کوونکي کولای شي د ژوندانه یوه ورځ انځور کړي او دوی لپاره اړینې زده کړې او مهارتونه ولیکي یا په شفاهي ډول تشریح کړي.

۱۰ دقیقې

5. زده کوونکي بیا کولای شي خپل کار خپلو ملګرو ته وښیي او په دې اړه نظرونه ترلاسه کړي:
- په پریزنټېشن کې څه شی د هغوی خوښ شو؟
- څه شی پکې نشته دی یا لا ښه کېدای شو؟

*زده کوونکي باید خپله دنده خپلې کورنۍ ته هم وښیي او تشریح کړي چې څنګه يې منځته راوړې ده.*

6. که اړتیا وي، زده کوونکي کولای شي په خپل رسم کې بدلونونه راولي.

درېیمه ورځ

## تصور وکړئ چې!

***زده کوونکي به د موجوده جشنونو په پلټلو او بیا د خپلو لمانځنو په پلانولو سره د خپلې خوښې جشن ډیزاین کړي***

۵ دقیقې

1. له زده کوونکو څخه د هغه بېلا بېلو جشنونو په اړه د بحث کولو غوښتنه وکړئ چې ستاسې په هیواد کې لمانځل کېږي.

۲۰ دقیقې

1. زده کوونکي به بیا په لومړي سر کې له ملګرو/ښوونکو/کورنۍ سره د بحث کولو له لارې دوه جلا جلا جشنونه چې د هغوی د فرهنګ برخه دي او د تاریخچې په اړه يې معلومات لري، غوره کړي. هغوی د لاندینیو مواردو په اړه معلومات راټولولای شي:
- د دې جشن تر شا څه پیغام یا مقصد پروت دی؟ د بېلګې په ډول: د اختر ورځ د روژې (رمضان) میاشتې یا د حج موسم پای ته د رسېدو په مناسبت د شکرانې ورځ ده.
- د دې جشن تر شا څه فلسفه ده؟
- مونږ څنګه دا جشن لمانځو؟ د بېلګې په ډول، مونږ شمعې بلوو، ځانګړي خواړه چمتو کوو، له کورنۍ او ملګرو سره ملاقاتونه کوو، د ځانګړي رنګونو لباسونه پر تن کوو، او داسې نور.

۱۵ دقیقې

3. زده کوونکي بیا له دوه جشنونو څخه یو جشن، چې په اړه یې معلومات ترلاسه کړي، غوره کوي او د کارکاتوري خندوونکې لړۍ یا تمثیلي پارچې د جوړولو لپاره، چې ګوندې نن د جشن ورځ ده، په ګروپونو کې کار کوي.

۲۰ دقیقې

3. زده کوونکي به اوس خپل تخیلي جشن ترتیبوي. هغوی کولای شي د لاندینیو مواردو په ګډون به د یو څو شیانو په اړه پرېکړه وکړي:

- د جشن اصلي پیغام څه دی؟
- د جشن نوم څه دی؟
- تاسي به په دې جشن کې کوم خواړه خورئ؟
- خلک به څه ډول لباس اغوندي؟
- تاسي به جشن څنګه لمانځئ؟

۲۰ دقیقې

5. زده کوونکي بیا کولای شي یوه کارکاتوري خندوونکې لړۍ یا یوه تمثیلي پارچه چې ترتیب کړی تخیلي جشن تشریح کوي، جوړه کړي.

۱۰ دقیقې

5. زده کوونکي بیا کولای شي خپله کارکاتوري خندوونکې لړۍ/تمثیلي پارچه خپل ملګرو سره شریکه او په دې اړه نظرونه ترلاسه کړي:

- په پرېزنټېشن کې څه شی د هغوی خوښ شو؟
- څه شی پکې نشته دی یا لا ښه کېدای شو؟

*زده کوونکي باید خپل ترتیب کړی تخیلي جشن خپلې کورنۍ ته هم وښيي او تشریح کړي چې څنګه یې ترتیب کړی دی.*

## خلورمه ورځ

# تصور وکړئ چې!


***زده کوونکي به، لومړی په خپلو تجربو باندې د نظر اچولو له لارې، خپل ښوونځي او زده کړه پېژې تجربې طرحه کړي.***

۵ دقیقې

1. له زده کوونکو څخه د بحث کولو غوښتنه وکړئ چې د ښوونځي/زده کړه ییز چاپېریال په هکله څه خوښوي او څه نه؟

۲۰ دقیقې

1. زده کوونکي بیا کولای شي چې لږ تر لږه له خپلو ۶ ملګرو څخه پوښتنه وکړي چې په ښوونځي کې یې څه خوښېږي او څه نه. زده کوونکي به بیا په جوړه یې شکل کار وکړي تر څو د ۵ مهمو شیانو چې په ښوونځي کې د خلکو تر بل هر څه ډېر خوښېږي، یو انځوریز جدول جوړ کړي. د بېلګې په ډول:

| کټګوري | د خوښېدنو شمېر |
| --- | --- |
| د ساینس ټولګی |  |
| د لوبو ډګر |  |
| د ریاضي ټولګی | ÷ |

۱۰ دقيقې

3. د هغوی د موندنو پر بنسټ، له زده کوونکو سره بحث وکړئ:


- په ښوونځيو کې تر ټولو ډېر مشهور څه شی دی؟
- په ښووونځيو کې تر ټولو لږ مشهور څه شی دی؟
- آيا داسې کوم دوه شيان شته دی چې مساوي اندازه د خوښۍ وړ ګرځېدلي وي؟
- څومره خلکو د کم خوښېدونکي شي (لکه د رياضي ټولګی) په پرتله ډېر خوښېدونکی شی (لکه د ساينس ټولګی) خوښ کړی؟

## د رياضي لوبه

۱۰ دقيقې

***تر ۱۰ پورې د شمېرنې د بياکتنې لپاره زده کوونکي يوه لوبه کوي.***

- تاسې بايد له ځان سره هغه توکي راوئ چې يو زده کوونکی به ورته په ښوونځي کې د ۱ نه تر ۱۰ پورې مقدارونو کې اړتيا ولري. لکه، ۱ بوتل اوبه، ۲ بوټونه، او داسې نور.
- تاسې بايد ارومرو اړونده شی، اړونده عدد ته څېرمه، د هماغه عدد په اندازه رسم کړئ.


٣

٢

١

- لومړی شخص، چې ټولې ۱۰ پوښتنې د بامفهومه ځوابونو په ورکولو سره ځواب کړي، ګټونکی دی!

۲۵ دقيقې

4. زده کوونکي به بيا خپل د ارمانونو ښوونځی ډيزاين کړي – په دې کې ننګونه ښوونځی د ډېرې خوښۍ او تفريح او زده کړې ځای جوړول دي. دا بايد داسې يو ځای وي چې زده کوونکي يې هيڅکله پرېښودلو ته زړه و نه کړي او واقعاً زده کړه پکې وکړي.
ځينې پوښتنو او لارښوونکو اشارو کې چې هغوی سره به فکر کولو کې مرسته کوي، کېدای شي لانديني موارد شامل واوسي:

- تاسې به څه شی زده کوئ؟
- څوک به تاسې ته تدريس کوي؟
- تاسې به چېرته زده کړه کوئ؟
- په ښوونځي کې به يوه عادي ورځ څنګه برېښي؟
- ستاسې د ښوونځي نوم څه دی؟
- زده کوونکي کولای شي د ۵ شيانو يو لسټ، چې په ښوونځي کې د خلکو تر ټولو ډېر خوښېږي، جوړ کړي او بيا فکر وکړي چې په دغه شيانو کې څنګه لا ډېر ښه والی راوستلای شي.

زده کوونکي به د نويو زده کوونکو د جذبولو لپاره د دې ارمانونو ښوونځي يو پوسټر، چې د دې ښوونځي انځور او مهمې ځانګړې ولري، جوړوي.

۱۰ دقیقې

5. زده کوونکي بیا کولای شي خپل پوسټر خپلو ملګرو ته وښيي او په دې اړه نظرونه ترلاسه کړي:
- په پریزنټېشن کې څه شی د هغوی خوښ شو؟
- څه شی موجود نه دی یا ښه والی پکې راوستل کېدای شو؟

6. که اړتیا وي، زده کوونکي په خپل رسم کې بدلونونه راوستلای شي.

۵ دقیقې

6. زده کوونکي نظرونه څرګندوي او له خپلو ملګرو سره بحث کوي:
- دوه شیان چې هغوی لپاره تر بل هر څه ډېر خوندور وو
- هر ډول ننګونه چې هغوی ورسره مخ شول

## پنځمه ورځ

# تصور وکړئ چې!

***زده کوونکي خپله ټوله تخیلي نړۍ ترتیبوي.***

۱۵ دقیقې

1. زده کوونکي د خپل ځان او د خپلو کورنیو، چې په دې نړۍ کې اوسېږي، د کیسې د جوړولو لپاره د تېرې ورځې خپل ټول تصور په بر کې نیولای شي. ځینې انګېزه ورکوونکې پوښتنې چې له هغوی څخه باید وپوښتل شي، ممکن دا په بر کې ونیسي:
- کورونه په چېرته موقعیت ولري؟ *(په هوا کې؟ د اوبو لاندې؟ )*
- د لېږد رالېږد/ټرانسپورټ وسایل به څه وي؟ *(آیا تاسې د بالون/پوکانۍ موټر درلودلای شئ؟ )*
- خلک به څه ډول خواړه خوري؟
- ستاسې په نړۍ کې څه ډول ځاروي دي؟
- هغه کوم یو شی دی چې تاسې یې په حقیقي نړۍ کې بیخي نه خوښوئ – دا به ستاسې په نړۍ کې څنګه متفاوت وي؟ بېلګې شریکې کړئ، لکه: ”زه د پلاستیک استعمال نه خوښوم او زما ګرده نړۍ به له داسې شیانو جوړه وي چې ټول اجزاء به یې طبیعي وي“

.

۲۰ دقیقې

2. زده کوونکي به د خپلې کاملې نړۍ انځور جوړ او نوم به ورته ورکړي، یا به یې په اړه یوه کیسه لیکي او دا به له خپلو ملګرو سره شریکوي – برعکس، زده کوونکي کولای شي په کامله نړۍ کې یوه ورځ تمثیل کړي (زده کوونکي له ملګرو څخه د برخه اخیستلو غوښتنه کولای شي)

۱۰ دقیقې

2. زده کوونکي خپله نوې نړۍ خپلو ملګرو ته ښيي او په دې اړه نظرونه ترلاسه کوي:
- په پریزنټېشن کې څه شی د هغوی خوښ شو؟
- آیا د هغوی په نړۍګانو کې کوم شی مشابه و؟